# د افغانستان پر بشپړتیا د څارني ادارې د مۍ میاشتي خبرپاڼه



په ډاکه ښار کې د ټولیزې حساب ورکونې د تلفیقي شبکې غړي د دفاع په لاره کې د خپلو هلو ځول د ټینګښت په موخه غونډه کوي.

**یوولسمه دوره: 5 شمیره**
**2011/04/24**

## سرلیکونه:

- د حاجي ګک توجیهي سند، په محلي ټولنو کې له محکموڅخه د څار لومړنی کار
- د هرات د بودیجې څیړنه
- د ځمکو د مصادرې او وېش د ستراتیژۍ سمونه
- د سپړل شویو صنایعو د شفافیت په برخه کې د مدني ټولنې روزنه
- نوې ویب پاڼه
- په بلخ او هرات کې د تیاترکمپاین



**د حاجي ګک توجیهي سند- د جولای میاشتي په ۲۰ به چمتو شي.**

**په سوېلي آسيا کې د ټولنيزې حساب ورکونې پياوړتيا**

د افغانستان پر بشپړتيا د څارنې ادارې د دغې مياشتې په اوږدو کې د بنګه دېش په ډاکه ښار کې د " د ټولنيزې حساب ورکونې د تلفيقي شبکې" په ستراتيژيکې سلاکارې غونډې کې ګډون وکړ. ياده شبک په سوېلي آسيا کې د مدني ټولنو له ارګانونو جوړه شوې ده، چې د ښاريانو د پياوړتيا او دولت د حساب ورکونې په لاره کې فعاليت کوي.
په دغه غونډه کې د شبکې غړيو د هغو زمينو په هکله خبرې وکړې، چې د بيلابيلو هيوادونو د مدني ټولنو ارګانونه کولای شي په هکله يې يوځای يو د بل له هلو ځلو ملاتړ وکړي. معلوماتو ته لاس رسی، محلي حکومت داري او ټولنيز استحقاقونه د سوېلي آسيا د سيمې لپاره مهم لومړيتوبونه په ګوته شوي دي.
يادو دريو لومړيتوبونو ته د رسيدنې په موخه به د افغانستان په شمول د سوېلي آسيا په شپږو هيوادونو کې د دغې شبکې ۲۲ غړي خپل کار د ظرفيت جوړونې، د خپلو ساريو له لوري زده کړې(peer learning) او ټوليزې مدافعې په برخو کې پيل کړي.

**د حاجي ګک د توجيهي سند د جوړولو ګام**

د باميانو ولايت حاجي ګک سيمه د نړۍ د اوسپنې تر ټولو بډايه کانونه لري او اوس مهال يې د سپړنې کار داو طلبۍ ته سپارل شوی دی. د افغانستان پر بشپړتيا د څارنې ادارې د دغې سيمې د اقتصادي، ټولنيز او چاپيرياليز وضعيت په هکله يوه څيړنه کړې او خپل توجيهي سند به د ۲۰۱۱ کال د جولای په ۲۰ نيټه ترتيب کړي.
دغه توجيهي سند څرګندوي، چې لاسته راوړنو ته په پام سره د دې احتمال شته،چې موجوده ګټه پالنې په افغانستان کې د " سرچينو د نفرت[1]" پديده رامنځته کړي. له همدې امله د افغانستان پر بشپړتيا د څارنې ادارې له دولتي چارواکيو سره د مرستې په موخه د کان د ترون له ورکړې وړاندې د باخبره پرېکړو لپاره، شپږ اصلي سپارښتنې وړاندې کوي.
ياد توجيهي سند د داسې پيچلتياو او اندېښنو بيانوونکی دی، چې کيدای شي د خلکو د اړتياوو د نه رعايت په صورت کې راښکاره شي. د حاجي ګک د اوسيدونکو او افغان دولت ترمنځ د همکاريو د ډاډ ترلاسه کولو لپاره به د يوې غوره راتلونکې د تحقق په لاره کې د همکاريو او شراکت احتمالي لارې په ډاګه شي.

---

1 -د سرچينو نفرت يوه متناقض وضعيت ته اشاره لري، چې په کې د نوښت نه منونکو وافرونو او سرچينو لرونکي هيوادونه په نه ودې او آن اقتصادي لوېدنې يا رکود اخته کيږي. د سرچينو نفرت هغه وخت رامنځته کيږي، چې يو هيواد خپله ټوله انرژي يوه واحد صنعت ته ځانګړې کړي او له نورو عمده سکټورونو سترګې پټې کړي. ژباړن



د افغانستان پر بشپړتیا د څارنې اداره د یوې داسې علنې محکمې له رامنځته کېدو ملاتړ کوي، چې په کې خلک وکولای شي له عدلي او قضايي سیستم ( د قانون حاکمیت) سره خپل تعادل لوړ کړي.

**په محلي ټولنو کې له محکمو څخه لومړنۍ څارنه**

په بامیانو کې د محلي محکمو د څارنې لپاره د کارکوونکو د ګمارنې پروسه لاهم نه ده بشپړه شوې. سربیره پردې، زموږ ولایتي همغږی کوونکي اکبر دانش، چې د دغې میاشتې په اوږدو کې د افغانستان پر بشپړتیا د څارنې له ادرې سره یوځای شوی، له محلي څارونکو یې غوښتي، چې د تمرین لپاره د لومړنۍ محکمې څارنې ته چمتو شي.
دغه محکمه د استیناف له یوه غوښتنلیک څخه عبارت وه، چې د بامیانو ولایت په استیناف محکمه کې د مۍ په ۱۱ نېټه اورېدل کېده. د افغانستان له قانون سره سم، استیناف د بیاځل محکمې دایرول دي، چې په کې مدعي او مدعي علیه چانس لري څو خپل اسناد او ثبوتونه وړاندې کړي. د دغې محکمې موضوع په وارث ولسوالۍ کې د غلا یوه دوسیه وه. په دغه دوسیه کې د نوروز په نوم یو کس په دې تورن و، چې په ۲۰۰۹ کال یې د سړک پر غاړه د یوې نادولتي نړیوالې موسسې څخه غلا کړې.

د محکمې په جریان کې مدعي دوه شاهدان حاضر کړل، چې د تورن کس د جرم په هکله یې کمزوري شواهد وړاندې کړل. د تورن کس مدافع وکیل، چې د حقونو له نړیوالو صندوق څخه ټاکل شوی و، د خپل موکل له لوري یې د جرم له سرته رسیدنې انکار وکړ. له دې وروسته قاضي هم له مدعي علیه سره همنظره شو او پرېکړه یې وکړه، ترهغې، چې غوښتنلیک ستري محکمې ته ځي، باید تورن کس له ولایتي زندان څخه آزاد کړل شي.
د افغانستان پر بشپړتیا د څارنې ادارې ټول اوه محلي څارونکي، چې د محکمې په هماغه غونډه کې حاضر ول، د هغه څه تر اغیز لاندې شول، چې په محکمه کې پیښ شول. د دوی له انده د محکمې فیصله عادلانه او منصفانه وه. ده تمرین لامل شو، چې په رسمي محاکمو کې د بیاځل ګډون لپاره د محلي څارونکو انګیزه زیاته شي.

## په هرات ولايت کې د بوديجې څېړنه

په هرات کې د بوديجې د څېړنې ټيم د بوديجې د شفافيت په هکلهه له مسؤلو همکارانو لکه محلي ټولنو، ولايتي چارواکيو، د انجيل، ګذره، کروخ او زنده جان ولسواليو له چارواکيو سره يو لړ سلا مشورې وکړې. دغه ټيم د دغې مسلې په سپينولو کار کړی، چې د بوديجې په اړه کوم ډول معلومات موجود او شفاف دي او کومې برخې لا ډېر کار ته اړتيا لري.

د هرات دولتي چارواکيو د بوديجې له څېړنې سره د موافقې ترڅنګ، اړين معلومات هم د ټيم به واک کې ورکړل. محلي ټولنو هم له پروسې سره موافقه وکړه او په لنډه موده کې يې خپل محلي څارونکي وټاکل. د محلي څارونکو لپاره به د سواد د زده کړې کورسونه جوړ شي، څو وکولای شي وسنجوي، چې آيا ځانګړې شوې سرچينې په سمه توګه د دوی لاسته ورځي کنه؟

د بوديجې د څېړنې له رکن څخه موخه، له يوبل سره د محلي او مرکزي سطحو نيږدې کول او د مرسته شويو بوديجو له پرځای مصرف څخه ډاډ ترلاسه کول ده. سربېره پردې، دغه پروسه به د محلي چارواکيو او خلکو ترمنځ د اړيکو او خبرواترو د ښه کولو په برخه کې ګټوره وي.



**د بوديجې څېړنه له خلکو سره مرسته کوي، چې ډاډ ترلاسه کړي، ځانګړې شوې سرچينې دوی ته رسيږي.**

## په بلخ کې ولايتي بورد هڅه کوي، چې د ستونزو لپاره حل ومومي

اوس مهال د بلخ پوهنتون د پاکستان په مرسته جوړيږي. د دغه ارګان د اهميت پربنسټ، محلي څارونکو پرېکړه کړې څو د پوهنتون جوړونې له پروسې څخه څارنه وکړي. خو د پوهنتون ګاردان او د پروژې پلي کوونکي هغوی ته اجازه نه ورکوي، چې ساحې ته لاس رسی پيداکړي.
په مزارشريف ښار کې د اقتصاد له ديپارتمنت سره تر سلامشورې وروسته، په ډاګه شوه، چې دغه اجازه ان دولتي څارونکو ته هم نه ده ورکړل شوې.
د دغې ستونزې د حل په موخه، د ولايتي څارنې بورد، چې د افغانستان پر بشپړتيا د څارنې ادارې له لوري تشکيل شوی، ټول برخه اخستونکي يې راټول کړل څو د دغې ستونزې لپاره لارې چارې ولټوي.

**د ځمکو د وېش او بېرته اخستلو( مصادرې) اړوند کړنلارو سمونه**

له کابل ښاروالی سره د افغانستان پر بشپړتیا د څارنې اداري کار ادامه لري او اوس د څارنې دغه اداره " د ساده کوني د کاري ګروپ" غړې ده. د کابل ښاروالی دوې کړنلارې د سمون یا اصلاحاتو راوړلو لپاره په ګوته شوې، چې عبارت دي: د ځمکو له وېش او مصادرې څخه.
دواړه کړنلارې له یوې خوا ګڼ شمېر ګټه اخستونکي لري او له بلې خوا تر ټولو بېکاره او ستونزې جوونکي میکانیزمونه دي. د والي تر لاسلیک او تایید پورې به، د افغانستان پر بشپړتیا د څارنې اداره یو تفاهم لیک لهه کابل ښاروالی سره لاسلیک کړي څو د کړنلارو د ساده کونې له پروسي څخه ډاډ ترلاسه شي.
همدارنګه د افغانستان پر بشپړتیا د څارنې اداري به د ساده کونې په پروسه کې د خپل رول حد اکثر رسولو او سازماني مالکیت د تضمین لپاره، د دولتي مامورینو په واک کې لازمي تخنیکي زده کړې هم ورکړي.

**د تیاترکمپاین به ډېر ژر بلخ او هرات ته لاړ شي**

**د افغانستان پر بشپړتیا د څارنې اداره هڅه کوي، چې د هرولایت په ۱۰ کلیو کې د تیاتر یو کمپاین جوړ کړي، چې موخه یې د مرستو په ګټورتیا کې د فعال ګډون لپاره د خلکو هڅونه ده.**

**دغه کمپاین خلکوته وربښيي، چې څرنګه کولای شي د سوله ایزو وسایلو او خبرو له لارې له محلي حکومت او پلي کوونکو سره مرسته وکړي، چې د مرستو د پر ځای لګولو کچه لوړه کړي.**

**دغه کمپاین به د اګیست په میاشت کې پیل شي او ټولو مینه والو ته بلنه ورکول کیږي، چې په دغه پروګرام کې ګډون وکړي.**

**د سپرل شویو صنایعو د شفافیت په برخه کې د مدني ټولنې روزنه**
د جون په میاشت کې به د افغانستان پر بشپړتیا د څارنې ادره د سپرل شویو صنایعو د شفافیت د نوښت په برخه کې دوه بېلابېل روزنیز پروګرامونه تنظیم کړي. لومړنی روزنیز پروګرام به د یاد نوښت د قوانینو، د مدني ټولنې د پام وړ سیمو او د سپرل شویو صنایعو د شفافیت د نوښت له سکرتریت سره د همکاریو د امکاناتو په برخه کې د مدني ټولنې د شبکې لپاره یو تقویتي کورس وي. دویمه غونډه به د مدني ټولنې د هغو سازمانونو لپاره جوړه شي، چې له دې وړاندې په دغه نوښت کې ښکېل نه و، خو د ګډون لپاره لېوالتیا لري. په دغه روزنیزه غونډه کې به د سپرل شویو صنایعو د شفافیت د نوښت مقدماتي بنسټ، شالید( تاریخچه) او د افغانستان لپاره د هغه ګټې تربحث لاندې ونیول شي.

له دغې ښونیزې او روزنیز غونډې څخه موخه، د مدني ټولنې د خبراوي د کچې او د صنایعو د سپړلو په هکله د ظرفیتونو لوړل ده، څو بالاخره مدني ټولنه وکولای شي د برخه والو په حساب ورکوونکو جوړونه کې فعال رول ولري.
نوي او پخواني غړي به د مدني ټولنې د ائتلاف اساس نامه ولیکي څو له دې لارې د نا دولتي موسسو له ژمنتیا، انسجام او کلیت څخه ډاډ ترلاسه شي. د افغانستان پر شفافیت د څارنې اداره شدیداً پر هغو ارزښتونو عقیده لري، چې موږ یې د رواجولو هلې ځلې کوو. دغه اداره د مدني ټولنې نور ارګانونه هم د شفافیت پر لور رابولي.

د نویو معلومات لاسته راوړلو لپاره، د افغانستان پر شفافیت د څار اداري له نوي وېب سایټ دیدن وکړئ.